سید عبیدالله نادر

۲۰۱۹/۰۷/۱۰

# جهالت د بد بختیو عامل

دا ډاګونه ، دا چمنونه، دا بڼونه او دا ښاڕي میری مونږ ته پاتي دي ،په کار ده چي په پوره غور او ژور فکر سر ه ددي وطن په سمسورتیا کې ونډه واخلو.

او د علم او معرفت په رنا کې خپل مینځی ستونزی حل کړو . او دا ننګ د ځانه څخه لیرکړو . او خپل سپیڅلی خاوری او وطن ته په صداقت او ایمان داری خدمت وکړو،او دا ښایي چي هیر نه کړو .چی زمونږ نیکونو،پلرونوزمونږ اسلافو ټولو د آزادئ په لاره کې بی ساری قربانی ورکړی .مونږ ته لازمه ده ،چی ددی لویو ارمانونو د ساتلو د پاره ، د سر شندنئ نه ډډه و نه کړو .او ددي آرمانونو د ساتلو د پاره مونږ ته ښایي چه لمړی خپل ځانونه د علم او معرفت په زیور باندی سمبال کړو .او ځان د زمان د علم و فن نه خبر کړو .او په مسلو کې د زمان د علم وفن او د وقت د سیاست سره په پوره آګاهئ او خبرتیا په ستونزو او شخړو باندی بری و مومو .یعنی خپلي ستونزی حل کړو .ولي چي زمونږ ددي دومره بدبختیو لوی عامل جهالت او خود خواهی ده ، او دا مونږ ته په ډاګه ښکاره شوی .چی خپل جهالت د نفس هوی او د قدرت لیونتوب دي بد نامیو یا بد بختیو خواته را کاږلي یو .او خپل د بی علمئ له وجهی د هر کس او ناکس لوبه ګرځو . که مونږ کې د علم او معرفت جوهر وای ،نو په ډیر آسانتیا سره به مو د نفاق علاج کړی وای .او دا خواره واره ملت به مو یو والي ته رابللی وای ،په ډیر تاسف سره باید ووایوچی ددي کار علمیت او توان په مونږ کې نشته .د دي آرزو د نه تر سره کیدو یواځنی علت د حب وطن او علم نشت والی دی .او تر څنګه يي د لارې د ټاکلو نوښت په مونږ کې نه لیدل کیږي .چی هیڅ وخت مو د قدرت ته رسیدلو په وخت او زمان کې دا په نظر کې و نه نیول


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارئ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې ښې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ